## <u>مطبوعاتي اعلاميه</u>

**د فېسبوک د تعصبي پالیسیو او یهودي دولت د جنایتونو ترمنځ توپیر نشته**

**دواړه د غزې د خلکو په وژولو کې یو لاس دي**

(ژباړه)

د فېسبوک ادارې د حزب التحریر ځینې فېسبوک‌پاڼې ځکه وترلې چې د یوه علني کمپاین له لارې یې پر مسلمانو ځواکونو غږ کاوه، چې باید له غزې او د فلسطین له سپېڅلې خاورې څخه د ملاتړ (نصرت) په موخه اقدام وکړي.

دا لومړی ځل نه دی چې د انلاین رسنیو شبکو، چې ډېری یې د امریکایي کمپنیو دي، د حزب التحریر پاڼې ترلې. ځکه چې د خلافت د تاسیس لپاره غږ، د امریکا او ټول غرب له سترګو خوب تښتولی او سخت یې اندېښمن کړي دي.

خو دا ځل د غزې پر خلکو د یهودو د وحشیانه بمباریو پر وخت د حزب التحریر له لوري د پوځونو د رابللو غږ ډېر اغیز درلود؛ خلکو دغه غږ بدرګه کړ او په عام محضر کې یې تکراراوه. دغه کار غرب له خپلو ټولو وسایلو سربېره ووېراوه؛ په دې کې د فېسبوک اداره، چې د یهودي دولت ملاتړ کوي، هم شامله ده.

ټولو ته په ډاګه شوه چې یهودي دولت د غرب له لوري د خپلو مسلمانو اجنټانو، د اسلامي دولتونو حکامو په وسیله ساتل کیږي. دغو حکامو په خپل وار له یهودي دولت سره د خپلو پولو په بندولو او خوندي ساتلو د فلسطین خلک بندیان کړي دي.

دا هم ټولو ته په ډاګه شوه چې فلسطین یوازې د مسلمانو پوځونو په بسیج او د مخلصو رهبرانو په رهبرۍ ازادېدی شي.

نو فېسبوک او همکاران یې هڅه کوي چې د حزب التحریر او د هر هغه مخلص کس غږ چوپ کړي، چې د ازادۍ قطب‌نما سم لوري ته سموي ... دا هڅې د غزې د خلکو پر وړاندې د یهودي دولت د بمونو او جنایتونو

په ځېر زيانمووونکې دي؛ ځکه دا هغه قصدي هڅې دي چې غواړي د غزې خلک مرستې ته لاسرسی ونه شي لرلی او مرسته ورته ونه شي رسېدی.

موږ دغو خلکو ته وايو چې الله سبحانه وتعالی له حق سره دی او د حق ملاتړ کوي. له دوی څخه وړاندې تر دوی ډېرو ځواکمنو د حزب التحرير د غږ ټيټولو هڅه وکړه؛ دوی لاړل، خو حزب په ټوله نړۍ کې د حق خپرولو ته دوام ورکوي.

الله سبحانه وتعالی فرمايي:

**«يُرِيدُونَ أَن يُطْفِئُوا نُورَ اللهِ بِأَفْوَاهِهِمْ وَيَأْبَى اللهُ إِلَّا أَن يُتِمَّ نُورَهُ وَلَوْ كَرِهَ الْكَافِرُونَ»** [توبه: ۳۲]

**ژباړه:** *«دا خلک غواړي چې د الله تعالی نور په خپلو پوکيو سره مړ کړي. خو الله تعالی خپل نور حتما بشپړوي، که څه هم چې دا کار کافران نه خوښوي او پر دوی سخت تماميږي»*

**انجنير صلاح الدين عضاضه**

**د حزب التحرير- مرکزي مطبوعاتي دفتر مشر**

۱۴۴۵ هـ.ق کال، د ربيع الاول ۱۶مه

۲۰۲۳م کال، د اکتوبر ۳۱مه

د صدور ګڼه: ۱۴۴۵/ ۰۱۲

ژباړن: محمد حامد